# معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي

سپتمبر ۲۰۱۸

د اسيا پراختيايي بانک

# معلوماتــو تــه د لاسرسي پاليــسي

سپتمبر ۲۰۱۸

ADB

د اسيا پراختيايي بانک

© ۲۰۱۸ د اسیا پراختیایي بانک
٦ سړک، د آسیا پرمختیایي بانک، ماندالیونګ ښار، ۱۵۵۰ میترو مانیلا، فلیپین
د ټیلیفون شمېره: ۴۴۴۴ ٦۳۲ ۲ ٦۳+؛ فکس: ۲۴۴۴ ٦۳٦ ۲ ٦۳+
www.adb.org

ټول حقونه خوندي دي. په ۲۰۱۸ کې خپور شوی.
د خپرونو سټاک نمبر. TCS ۱۸۹٦۲۷

په دغه سند کې د کومې ځانګړې خاورې (قلمرو) یا جغرافیوي سیمې په یادولو یا مراجعې سره، یا د "هېواد" اصطلاح په کارولو سره د اسیا پراختیایي بانک نه غواړي چې د کومې سیمې د حقوقي یا نورو دریځونو په اړه قضاوتونه وکړي.

د آسیا پراختیایي بانک د معلوماتو چاپ او کاپي یوازې د شخصي، تعلیمي، او غیر سوداګریزې کارونې لپاره هځوي چې د آسیا پراختیایي بانک په رسمیت وپیژندل شي. کارونکي د آسیا پراختیایي بانک د څرګند او تحریري رضایت پرته د بیا پلورل، بیا توزیع کول او یا هم د سوداګریزو موخو لپاره د مشتق کارونو رامینځته کولو څخه منع دي. مهرباني وکړئ د pubsmarketing@adb.org سره اړیکه ونیسئ که تاسو د مینځپانګې په اړه پوښتنې یا نظرونه ولرئ، یا که تاسو غواړئ د کاپي حق ترلاسه کړئ.

یاددښت:
د اسیا د پراختیایي بانک د خپرونو د تیروتنو لېست او سمې بڼې په دې پته موندل کېدای شي:
.http://www.adb.org/publications/corrigenda

د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ
معلوماتو د لاسرسي څانګه
د سکرتریت دفتر
disclosure@adb.org
www.adb.org/site/disclosure/main

دا ډیزاین شوې د پالیسی نسخه د آسیا پراختیایي بانک د رییسانو بورډ لخوا په ۲۸ سپتمبر ۲۰۱۸ کې تصویب شوې.

په بیا تولید شوي کاغذ چاپ شوې

| | |
|---|---|
| مرستیال مشر<br>د مشرانو کمېټه | بمبنګ سوسانټونو، د پوهې مدیریت او پاینبت درلودونکې وده<br>نسیم احمد، مرستیال عمومي رئیس، د پاینبت درلودونکې ودې او د اقلیم د بدلون ډیپارټمنټ (SDCC)<br><br>شیرین حمید، عمومي رئیس، د معلوماتي سیستمونو او ټکنالوژۍ اداره (OIST)<br>هون کیم، عمومي رئیس، د جنوبي اسیا ډیپارټمنټ (SARD)<br>ټومویوکي کومورا، عمومي رئیس، د ستراتیژۍ، پالیسۍ او بیا کتنې ډیپارټمنټ (SPD)<br>کریسټوفر سټیفنز، عمومي مشاور، د عمومي مشورې اداره (OGC)<br>وېکي سي ایل ټان، عمومي رئیس، د ارتباطاتو ډیپارټمنټ (DOC)<br>کریسټوفر تیم، مرستیال عمومي رئیس، د خصوصي سکتور د عملیاتو ډیپارټمنټ (PSOD)<br>وو چونګ اوم، عمومي رئیس، SDCC<br>ایوجینو ژوکو، سکرتر، د سکرتریت دفتر (OSEC) |
| عمومي رئیس | ویکی سي ایل ټان، DOC |
| رئیس | اومانا نایر، رسنۍ او بیروني اړیکو څانګه، DOC |
| د ډلې مشر | کیرن لین، د کمیونیکیشن مشر متخصص، DOC |
| د ډلې غړي | مارک کروی، مشر ایډیټر، OSEC<br><br>کورومي فوکایا، د مخکښو عملیاتو د همغږۍ متخصص، PSOD<br>لیزلي لام، مشاور او مشر، د ایجنسۍ دننه اړیکې او د ناخپلواکه عملیاتو واحد، SPD<br>لیلیا نظربیکووا، مشر مشاور، OGC<br>فرانسسکو ټورنیری، د ټولنیزې ودې مشر متخصص، SARD<br>پیټریک ویرمیج، د معلوماتي ټکنالوژۍ متخصص، OIST<br>نیک انجیلو ویلالوز، د کمیونیکیشن مامور، DOC |

د هر هېواد لپاره د پروګرام او تګلارې په چمتو کولو، د کومې پروژې مالي ملاتړ کولو یا په دغه سند کې یوې ځانګړې احاطې یا جغرافیایي سیمې ته په کومه ټاکنه یا رجوع کولو سره، د اسیا پراختیایي بانک د کومې احاطې یا سیمې د حقوقي یا بل حیثیت په اړه د هېڅ ډول قضاوت کولو اراده نه لري.

# سرليکونه


لنډيزونه ۷

I. شاليد ۱

II. د پاليسي پېژندنه ۵

III. د پاليسۍ اصول او استثناوې ٦

A. د پاليسۍ اصول ٦

B. د خرګندولو لپاره استثناوې ۸

C. عامه ګټه لوړول (مثبته غبرګون) ۱۲

D. د لاسرسي محدودولو لپاره د اسيا پراختيايي بانک امتياز (منفي غبرګون) ۱۲

E. تاريخي معلومات ۱۲

IV. د معلوماتو غوښتنې ۱۳

A. معلوماتو لپاره غوښتنې ۱۳

B. معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه ۱۴

C. غوښتنې ۱۴

D. له نورو پاليسيو سره معلوماتو ته د لاسرسي پاليسۍ اړيکه ۱۵

E. د مطابقت بياکتنه ۱٦

V. د پاليسۍ څارنه او سمونونه ۱۷

VI. د پاليسۍ د اغېزمنتوب نيټه ۱۸

# لنډیزونه

| | | |
|---|---|---|
| ADB | – | د اسیا پراختیایي بانک |
| AIC | – | معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه |
| AIP | – | معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي |
| IAP | – | د غوښتنو خپلواک هیآت |
| PCP | – | د عامه کمیونیکیشن پالیسي |
| US | – | متحده ایالات |

# ا.    شالید

۱.    د اسـیا پراختیایي بانک د عامه اړیکو پالیسي (۲۰۱۱)، د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشـت په ۲۵ مه نېټه د رئیسه هیئت له خوا تصویب شوه او د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشتې په ۲ مه نېټه نافذه شوه. دا بیاکتنه له نوموړې پالیسۍ سره سمه ترسره شوې ده.

۲.    د بیاکتنې پروسـه. د عامه اړیکو د پالیسـۍ بیاکتنه د ۲۰۱٦ کال د جولای میاشت کې د پرېکړې کمېټې (steering committee) له تاسیسـولو سره سـمه پیل شوه چې د نوموړې پروسـې په اړه ستراتیژیکې لارښـوونې وړاندې کړي. په ۲۰۱٦ کې، د اسیا پراختیایي بانک د عامه اړیکو د پالیسۍ یوه د میز پر سر کتنه او د نورو څو اړخیزو بانکونو یوه خپلمنځې ارزونه ترسره کړه، چې له هغه وروسته داخلي مشورې هم ترسره شـوې. د عامه اړیکو د پالیسـۍ د بیاکتنې یوه ویبپاڼه جوړه شوه چې د ۲۰۱٦ کال د نومبر میاشت کې په کې د نوې وړاندیز شوې پالیسۍ لومړنۍ مشورتي مسودې او د دوی د پلي کولو ترتیبات، د عامه نظرونو د ترلاسـه کولو په موخه خپاره شـول[۱]. د اسـیا پراختیایي بانک د ۲۰۱٦ کال په ډسمبر او د ۲۰۱۷ کال په جون-جولای میاشـتو کې په ۱٦ هیوادونو او یوه سـیمه کې له ټریوالو سهم لرونکو سره مشورتي ناستې ترسره کړې[۲]. دویمې مشورتي مسودې پر نوموړې ویبپاڼه باندې د ۲۰۱۸ کال په فبروري میاشت کې خپرې شـوې. د ۲۰۱۷ کال په اپریل او ۲۰۱۸ کال په اپریل میاشـتو کې د اسـیا پراختیایي بانک له رئیسه هیئت سره په غیررسمي توګه مشورې ترسره شوې. د ۲۰۱۸ کال په جولای میاشت کې د پالیسۍ یوه کاري رساله پر ویبپاڼه باندې او همدا ډول د نوموړي هیئت لپاره د لاسرسي وړ وګرځیدله.

۳.    د پالیسـۍ بیاکتنه. د پالیسـۍ بیاکتنې وښودله چې د عامه اړیکو د پالیسۍ اصول او د خپرولو استثناآت د نـورو څو اړخیزو پراختیایي بانکونو او د نورو هیوادونو له هغو سره په مطابقت کې دي. همدا ډول دې بیاکتنـې ومونده چې نور څو اړخیز پراختیایي بانکونه د اصولو-پربنسـټ پالیسـیو پر لور روان دي، چې اوس مهال د معلوماتو خپرولو او افشاء کولو لپاره تر ټولو غوره لاره ګڼل کیږي. پر دې سربېره، د عامه اړیکو د پالیسـۍ کلنیو ارزونو د هغو سـندونو په شمېر کې زیاتوالی وښود چې د اسیا پراختیایي بانک پر ویبپاڼه (www.adb.org) خپریږي. په هر حال، نوموړې بیاکتنې دا هم ومونده چې د سـندونو خپرول ځینې وختونه له دې امله ځنډیږي چې کارکوونکي د خپرولو له شرایطو او غوښـتنو څخه ناخبر وي، په ځانګړې توګه هغه تولیدات یا سندونه چې په ۲۰۱۱ کال کې د عامه اړیکو د پالیسۍ له تصویب وروسته معرفي شوي وي، او له همدې امله په پالیسۍ کې ذکر شوي نه دي.

---

[۱] ADB. ۲۰۱٦. د عامه اړیکو د پالیسي بیاکتنه. https://www.adb.org/site/disclosure/pcp-review

[۲] هیوادونو: بنګله دیش، نیپال، فیلیپین، تاجیکستان، تایلېنډ، کمبودیا، د لائو د خلکو دیموکراتیک جمهوریت، ویتنام، کاناډا، متحده ایالات، اروپا (له جرمني څخه)، آسټرالیا، تیمور - لیستی، فیجي، هندوستان، آذربایجان او جورجیا.

۴. نوموړې بیاکتنې دا هم ومونده لـه چې د معلوماتو غوښتنې او بیا غوښتنې پروسې ښې فعالې دي. په ۲۰۱۷ کال کې، د اسیا پراختیایي بانک د معلوماتو لپاره ۳٦٥۳ رسمي غوښتنې ترلاسه کړې، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ډېر زیاتوالی په کې لیدل کیږي، چې یواځې ۲۳۰ غوښتنې ترلاسه شوې وې[3]. په ۲۰۱۷ کال کې، د اسیا پراختیایي بانک د ټاکلو ۵ ورځو په موده کې ۸۱٪ غوښتنې تصدیق کړې او د ۲۰ ورځنې ضرب الاجل دننه یې ۹٦٪ غوښتنو ته ځواب ورکړ. د معلوماتو ۷ غوښتنې رد شولې، چې له دې جملې څخه ٦ هغه غوښتنې وې چې د مالي حساسو معلوماتو غوښتنه کړې وه. د ۲۰۱٦ په څېر، په ۲۰۱۷ کال کې هم د یوې قضیې په اړه د معلوماتو بیا غوښتنې موجود و[4].

۵. د پالیسۍ وړاندیز شوې بدلونونه. د عامه اړیکو پالیسي د سندونو افشاء کولو او خپرولو لپاره د اصولو پربنسټ تګلاره کاروي. نوموړې پالیسي یو مفصل لاربښود وړاندې کوي چې موخه یې د تر ټولو زیاتو اټکل کیدونکو قضیو او حالتونو ښودل وي چې له مخکې مشخص شوي او په جدي توګه روښانه شوي د خپرولو استثناآت او زماني جدولونه لري. د اصولو پر بنسټ پالیسي د معلوماتو شریکولو لپاره د یوې پیاوړې تګلارې له لارې د معلوماتو خپرول اداره کوي. په هر حال، دا چې د اسیا پراختیایي بانک د چټکې-بدلیدونکې سیمې له اړتیاوو سره سمون کوي، نو چارې یې هم بدلېږي. د اسیا پراختیایی بانک د معلوماتو خپرولو پالیسي هم باید له دې چټک تکامل سره سمون ولري. د اصولو پربنسټ تګلارې ډیرې وختونه په چټکۍ سره د بدلونونو منلو لپاره نرمښت منونکې نه وي. له همدې امله ځینې وختونه داسې پایلې رامنځ ته کوي چې د پالیسۍ له مطلوبو هدفونو سره مطابقت نه لري – د معلوماتو افشاء کولو او شریکولو په پلوۍ یوه فرضیه چې سهم لرونکو ته کافي مهلت ورکوي چې معنی لرونکې نظرونه او غبرګون وړاندې کړي.

٦. له همدې امله، له همزولو ادارو سره په مطابقت، د اسیا پراختیایی بانک د افشاء کولو پالیسۍ دوه-برخې لرونکی چوکاټ وړاندیز کوي: (۱) د اصولو پر بنسټ پالیسي چې د اسیا پراختیایي بانک د رئیسه هیئت له خوا تصویب شوې ده، لکه څنګه چې په دې رساله کې ترې یادونه شوې ده؛ او (۲) د پلي کولو مفصل ترتیبات چې د مدیریت له خوا تصویب شوي او د اسیا پراختیایي بانک له عادي کړنلارو سره سم، د اسیا پراختیایي بانک په عملیاتي لاربښود کې د عامه خلکو لپاره د لاسرسي وړ ګرځېدلي دي.

۷. د اصولو پر بنسټ اغیزناکه تګلاره روښانه اصولو او د اسیا پراختیایي بانک او د دوی د سهم لرونکو ترمنځ فعالې او همکاریزې مفاهمې ته اړتیا لري. همدا ډول دا تګلاره د کارکوونکو او همکارانو لپاره منظمې روزنې او د پوهاوي لوړاوي، او همدا ډول د شکایتونو روښانه پروسې ته اړتیا لري چې ډاډ ورکړل شي چې اصول په منظمه او پایښت لرونکې توګه او په حسن نیت سره پلي شوي دي. فعاله څارنه او راپور ورکونه، چې رئیسه هیئت ته راپور ورکول هم په کې شامل دي، هم ډېر اړین دي چې ډاډ ورکړل شي چې د پالیسۍ اصول په اغیزناکه او پایښت لرونکې توګه پلي شوي دي. پالیسي، د پلي کولو ترتیبات، د څارنې راپورونه او نور اړوند معلومات به د اسیا پراختیایي بانک د ویبپاڼې له لارې د لاسرسي وړ وي[5].

۳ ADB. ۲۰۱۷. د عامه اړیکو د پالیسی کلنی راپور ۲۰۱۷.

4 https://www.adb.org/sites/default/files/institutional-document/424291/pcp-annual-report-2017.pdf

5 https://www.adb.org/site/disclosure/pcp-implementation/appeals/appeals-received

۸. وړاندیز شوې پالیسي پر اصولو تمرکز کوي، چې مخکښ اصل یې "روښانه، پر وخت، او مناسب خپرول" دی. نور اصول یې تر ډېره د عامه اړیکو له پالیسۍ سره یو ډول دي او له محدودو استثناآتو سره د معلوماتو خپرولو د پلوي فرضیې له خوا حمایه کېږي. په داسې حال کې چې د پالیسۍ اصول به تر هغه پورې پر خپل ځای پاتې وي چې د هیئت له خوا تغیر شوي نه وي، د پلي کولو ترتیبات له اړتیا سره سم د اسیا پراختیایي بانک د مدیریت په تصویب سره تعدیل کیدلای شي چې نوي تولیدات او پروسې راغبرګې کړي. دا خوځښت باید د پلي کولو د روښانتیا او د افشاء کولو د اټکل کیدلو ډاډ ورکړي. د تازه لاربښوونو وړاندې کول چې کوم اسناد او کله باید په عادي حالت کې خپاره شي، د دې لپاره وړاندې کیږي چې د اسیا پراختیایي بانک سره د پالیسیو پر وخت خپریدلو او اغیزناکتیا زیاتولو کې مرسته وکړي. د ارزونې د خپلواکو راپورونو اړوند، د پلي کولو ترتیبات د بشپړو شوو راپورونو[٦] یا نورو ترتیباتو د خپرولو اوسني عرفونه راغبرګوي، لکه څنګه چې ورته په راتلونکي کې – د هیئت له خوا تصویب شوې پالیسۍ کې، چې د اسیا پراختیایی بانک د ارزونې خپلواک ډیپارټمنټ اداره کوي – اړتیا لیدل کیږي.

۹. د عامه اړیکو پالیسۍ له خوا نورو وړاندیز شوو بدلونونو کې د شالید معلوماتو برخې لرې کول، چې وخت یې تېر شوی وي، او د اسیا پراختیایي بانک د عامه اړیکو برخې لرې کول شامل دي. د اسیا پراختیایي بانک د عامه اړیکو تګلاره د بانک د اداري اړیکو عرفونه روښانه کوي. د اړیکو تګلارې د مفاهمې او اړیکو د نویو چینلونو له رامنځ ته کیدلو او تر هدف لاندې مخاطبینو له راپورته کیدلو سره په چټکۍ بدلېدلای شي. دا چې دا فعالیتونه د افشاء کولو له هغو څخه ډېر توپیر لري، نو ځکه به په یوه جلا سند کې تشریح شي او معلوماتو ته د لاسرسي لپاره د اسیا پراختیایي بانک ویبپاڼې له لارې به د لاسرسي وړ وي (۵ پایلیک).

۱۰. د عامه اړیکو پالیسۍ د اصلاح له نظره، د نومووړې پالیسۍ نوم "معلوماتو ته د لاسرسي پالیسۍ" باندې واوښتو. دا نوی نوم د معلوماتو افشاء کولو باندې نوی تمرکز او د پالیسۍ د معلوماتو وړاندې کولو هدفونه په غوره توګه روښانه کوي. د نامه/عنوان دا بدلون له نورو همزولو پراختیایي بانکونو سره په مطابقت کې دی، په ځانګړې توګه له هغو سره چې پر اصولو-متمرکزې پالیسۍ لري.

۱۱. د لومړنۍ او دویمي مشورتي مسودو او د کاري رسالې اړوندو ترلاسه شوو تبصرو پر بنسټ، د کتنې دا رساله د دې لپاره چمتو شوه چې د اسیا پراختیایي بانک د رئیسه هیئت له خوا وکتل شي. که چېرته تصویب شي، نو نوي پالیسي به د ۲۰۱۹ کال د جنوري میاشت له لومړۍ نېټې څخه د پلي کیدلو وړ وي. د پلي کیدلو ترتیبات به د اسیا پراختیایي بانک د مدیریت له خوا تصویب کیږي او له پالیسۍ سره به په یو وخت د تطبیق وړ وي.

---

[٦] اوسمهال، د ارزونې ټول خپلواک راپورونه د ۱۴ ورځو دننه د بشپړیدو او د مدیره هیئت ته د رسیدو وروسته خپریږي، پرته د ارزونې خپلواکه ځانګې کلنۍ ارزونې بیاکتنې راپورونو څخه چې د مدیره هیئت لخوا د بحث په ۱۴ ورځو کې افشا کیږي.

۱۲. سرچینې. د داخلي او بهرنۍ رسـیدګۍ، د پوهاوي لوړاوي، ژبـاړې، او کارکوونکو د روزنې لپاره لومړنۍ بودیجه ځانګړې شـوې ده چـې معلوماتو ته د لاسرسي د نوې پالیســۍ د ارام تطبیق ډاډ ورکړل شي. معلوماتو ته د لاسرسي پالیســۍ د پلي کولو بشــپړ مســولیت به د منشي د دفتر پر غاړه وي. دوه اضافي کاري بستونه – یو داخلي یو نړیوال – په ګوته شوي دي او د دې لپاره به ځانګړي شي چې معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي اداره کړي. معلوماتو ته د لاسرسي پالیسۍ د پلي کولو لپاره د اضافي سرچینو اړتیاوې به د کلنۍ بودیجې د چمتو کولو او ځانګړي کولو پروسې پر مهال تائیدېږي.

## II. د پالیسی پېژندنه

۱۳. معلوماتو ته د لاسرسی پالیسی موخه د اسیا پر پراختیايي بانک د ونډه والو باور ته وده ورکول او د دغه بانک د فعالیتونو د پراختیايي اغېزې زیاتول دي. دغه پالیسي د روڼتیا، حساب ورکولو او په اسیا او پاسیفیک کې د اسیا پراختیايي بانک ملاتړ درلودونکو پراختیايي فعالیتونو کې د ونډه والو له لورې ګډون ته د نوموړي بانک ژمنتیا منعکسوي. دا همدا راز د وګړو هغه حق پېژني چې د اسیا پراختیايي بانک د کړنو په اړه معلومات وغواړي، ترلاسه کړي او په ډاګه يې کړي.

۱۴. دغه پالیسي پر هغو اسنادو او معلوماتو پلې کیږي چې د اسیا پراختیايي بانک يې تولیدوي، د پېرودونکو یا پوروړو له لورې يې باید تولید شي یا د اسیا پراختیايي بانک د عملیاتو په جریان کې د نورو ډلو له لورې تولید شوي او د اسیا پراختیايي بانک ته چمتو شوي وي. دغه پالیسي به له هغو تفصیلي ترتیباتو سره سمه پلې شي چې د اسیا پراختیايي بانک د مدیریت له لورې تصدیق شوي وي او د دغه بانک د عادي کړنلارو مطابق په عامه توګه د لاسرسي وړ وي[۷].

[۷] د اسیا پراختیايي بانک پالیسیو د پلي کېدنې ترتیبات د اسیا پراختیايي بانک د عملیاتو په کتابګوتې کې تر عملیاتي کړنلارو لاندې چمتو شوي دي (څنګه چې وخت پر وخت تعدیل شوي دي).

# III. د پالیسی اصول او استثناوې

## A. د پالیسی اصول

۱۵. د اسیا پراختیایي بانک د معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي پر لاندې یادو شوو اصولو ولاړ دی:

(i). **څرګنده، پر وخت او مناسبه څرګندونه.** د اسیا پراختیایي بانک د خپلو عملیاتو په اړه معلومات په څرګند ډول، پر خپل وخت او مناسبه طریقه خپروي څو د ونډه والو ورتیا زیاته کړي چې د اسیا له پراختیایي بانک سره په بامفهومه توګه دخیل شي او ښه حکومتولۍ ته وده ورکړي.

(ii). **د څرګندولو په ګټه احتمال.** د اسیا پراختیایي بانک هغه مهال معلومات شریکوي چې نوموړي معلومات په پالیسۍ کې د مشخصو شوو استثناوو په ډله کې ونه شمېرل شي.

(iii). **محدودې استثناوې.** د معلوماتو بشپړه څرګندونه هر وخت شوني نه وي. د بېلګې په ډول، د اسیا پراختیایي بانک باید نظریې وپلټي، معلومات شریک کړي، له نوماند سره خبرې اترې وکړي او په ازادانه ډول په داخل کې او له خپلو غړو او پېرودونکو سره پر نظریو بحث وکړي. په نورو حالتونو کې، د اسیا پراختیایي بانک اړ دی چې د خپلو ناخپلواکه عملیاتو او پېرودونکو ځانګړې اړتیاوې په پام کې ونیسي[۸]، د کاروونکو د خصوصیت حق خوندي کړي او خپلې او د خپلو پېرودونکو قانوني سوداګریزې ګټې وساتي. دغه پالیسي د استثناوو یو داسې محدود سېټ چمتو کوي چې د بېلا بېلو ډلو حقونه او ګټې متوازنې ساتي. سره له دې، د اسیا پراختیایي بانک تر استثنايي حالتونو لاندې د ځان لپاره حق خوندي ساتي چې د پالیسی استثناوې باطلې کړي (۱۸ پاراګراف) یا هغه معلومات څرګند نه کړي چې په عادي ډول یې څرګندوي (۱۹ پاراګراف).

(iv). **عملي څرګندونه.** د اسیا پراختیایي بانک د خپلو عملیاتو په اړه معلومات په خپل وخت شریکوي څو د نوموړي بانک په پرېکړه نیونه کې ګډون تسهیل کړي. په داسې حال کې چې

---

[۸] د پېرودونکو د محرمو سوداګریزو معلوماتو د نه ښکاره کولو یو حقوقي تړون د خصوصي سکتور مالي ادارو او همدا راز د اسیا پراختیایي بانک د پرتله کوونکو لپاره یوه معیاري اړتیا ده څو له پېرودونکو سره په سوداګرۍ کې ښکېل شي. د محرمو سوداګریزو معلوماتو د خوندیتوب لپاره اړتیا هم د معلوماتو د قوانینو په ازادۍ کې په پراخه کچه پېژندل شوې ده چې د باور له مخې د ترلاسه شوو سوداګریزو معلوماتو د خپرولو لپاره یوه استثنا پکې ګډون لري.

د اسـیا پراختیایي بانک وېبپاڼه د عملي څرګندونې لپاره اصلي وسیله ده، دغه بانک د معلوماتو څرګندولو او رسولو لپاره له نورو مناسبو وسیلو څخه هم ګټه اخلي.

(v). **د معلوماتو او نظریو شریکول.** معلوماتو ته د لاسرسـی پالیسـی کې هغه پروسـې هم ګډون لري چې پوسـیله یې وګړي ښـایي د اسـیا پراختیایي بانک د عملیاتو په اړه په مسـاوي ډول معلومات او نظریې وغواړي، ترلاسـه کړي او ولېږدوي. له ونډه والو سره اغېزمن کمیونېکېشن او د معلوماتو او نظریو تبادله د اغېزمنې او پایښت وړ ودې یوه مهمه برخه ده.

(vi). **لـه پروژې څخه اغېزمنو شـوو وګـړو او نورو ونډه والـو ته معلومات چمتو کول.** د اسـیا پراختیایي بانک له خپلو پورورو او پېرودونکو سره له نږدې کار کوي څو له پروژې څخه اغېزمنو شوو وګړو او نورو ونډه والو سره د اسیا پراختیایي بانک د پروژو په اړه دوه اړخیزې خبرې اترې باوري کړي. دغه کړنه د یوه مهالوېش له مخې او د اړونده ژبو په کارولو سره په داسـې طریقه ترسره کیږي[۹]، چې له پروژې څخه اغېزمنو شـوو وګړو او نورو ونډه والو ته فرصت ورکوي چې د پروژې ډیزاین او پلي کېدنې ته بامفهومه نظریې چمتو کړي.

(vii). **د هېـواد او پېرودونکي ملکیت.** د اسـیا پراختیایي بانک پـورورې او پېرودونکي د هغو پروژو ملکیـت لـري چې دغه بانک یې ملاتړ یا پکې پانګونه کوي. په دې ډول، په ځینو حالتونو کې د اسـنادو له څرګندولو څخه مخکې د څرګندونې د وخـت او محتوا اړوند د پورورو یا پېرودونکو نظریې په پام کې نیول کیږي.

(viii). **د څرګندو غوښـتنو پروسـه.** د غوښـتل شـوو معلوماتو د نه څرګندولو لپاره د اسیا پراختیایي بانک پرېکړې غوښتلو یوه څرګنده پروسه د بامفهومه څرګندونې د چوکاټ یوه مهمه برخه ده.

(ix). **دوامداره څارنه.** د اسـیا پراختیایي بانک د پالیسـی اغېزمنتوب څاري، له بریاوو او کمیو څخه یې زده کړه کوي او نوې ټکنالوژۍ او کړنې کاروي.

---

[۹] د اسـیا پراختیایي بانک د ژباړو لارښـودونه په رسـمي او ملي ژبو د موادو د ژباړلو فرصت چمتو کوي. څنګه چې په هېواد کې اسـتازې اداره وغواړي، د قضیه – پر – قضیه بنسټ محلي ژبې کارېدلی شي.

## B. د ښکاره کولو لپاره استثناوې

١٦. د اسیا پراختیایي بانک په خپل ملکیت کې هغه معلومات څرګندوي چې د پالیسۍ تر استثناوو لاندې نه ګڼل کیږي. دغه استثناوې د اسیا پراختیایي بانک د هغې پریکړې پر بنسټ دي چې د معلوماتو د ځانګړو ډولونو څرګندونه به ځینو ډلو یا ګټو ته د زیان رسولو لامل شي چې د څرګندونې له ګټو څخه به یې تاوان ستر وي. د ګټې او زیان ارزونه، د څرګندولو د ګټو پر وړاندې د احتمالي منفي اغېزو د ارزونې یوه پروسه ده. د اسیا پراختیایي بانک د څرګندولو د اصولو په قرینه کې (١٥ پاراګراف) – په ځانګړې ډول د څرګندولو په ګټه انګېرنه – دغه ډول یوه ارزونه او د نه څرګندولو لپاره بنسټ د هغو معلوماتو کټګوریو ته محدود دی چې په ١٧ پاراګراف کې تشریح شوي دي. که چېرې یو سند یا د سند یوه برخه له دې امله څرګنده نه شي چې د پالیسۍ د استثناوو تر یوه ډېرو حالتونو لاندې راتلونکي معلومات پکې موجود وي، د اسیا پراختیایي بانک دغه استثناوې نه څرګندېدونکې ګڼي.

١٧. د مثبتې باطلونې (١٨ پاراګراف) اړوند د غوښتنو د خپلواک هیأت د شرط له مخې، د معلوماتو یا اسنادو لاندې یادې شوې کټګورۍ باید څرګندې نه شي:

### ١. ارادي او د پرېکړې نیونې پروسه

هغه معلومات چې د اسیا پراختیایي بانک ارادي یا د پرېکړې نیولو پروسې ته معلومات چمتو کوي، په عمومي ډول له څرګندولو څخه مستثنا دي. د استثنا دغه کټګوري د هغه منطق پر بنسټ ده چې د پرېکړې نیولو لپاره معلومات چمتو کوونکې ارادې، مباحثې او مشوره باید ازاده او سپېڅلې وي. په دې کې لاندې شیان ګډون لري:

(i). داخلي معلومات، که چېرې څرګند شي، ښایي د اسیا پراختیایي بانک ارادي او د پرېکړې نیولو پروسې سپېڅلتوب د نظریو، نظرونو او طریقو د تبادلې په مخنیوي سره په خطر کې وغورځوي او په دې ډول د اسیا پراختیایي بانک او ونډه والو لپاره یې د پرېکړو او پایلو پر کیفیت منفي اغېزه وښندي. په بېلګو کې هغه مشوره او نظریې ګډون لري چې د بورډ د غړو، د رئیسانو د مشاورینو، د مدیریت د غړو، د بانک د کارکوونکو، د بانک د مشاورینو چې په عمومي ډول د طبیعت له مخې ارادي دي، تر منځ تبادله شوې وي. په داسې حال کې چې د اسیا پراختیایي بانک په نمونه یې ډول د خپلې پرېکړې نیونې د پروسو پایلې څرګندوي، ښایي هغه ټولې نظریې، نظرونه او طریقې څرګندې نه کړي چې د دغه ډول پرېکړو لامل شوي وي ځکه چې ونډه وال باید دغه ډول نظریې، نظرونه او طریقې په ازادانه ډول وړاندې کړي او بحث ورباندې وکړي.

(ii). د رئیسانو د بورډ جریانات[۱۰]، د بورډ د کاغذونو[۱۱]، ټکي په ټکي لیکنو[۱۲]، د بورډ د غونډو عمده ټکو[۱۳] او د بورډ د ځانګړو غونډو لنډیزونو پرته[۱۴]، ځکه چې د دغه ډول اسنادو ښکاره کول به د بورډ د غړو تر منځ د نظریو، نظرونو او طریقو د غوره تبادلې مخنیوی وکړي.

(iii). هغه معلومات چې د اسیا پراختیایي بانک او د بانک د غړو او هغو نورو ادارو تر منځ چې بانک ورسره همکاري لري، تبادله شوي وي، ورته چمتو شوي وي او یا یې له ارادي او د پرېکړې نیونې له پروسې څخه اخیستل شوي وي. که چېرې څرګند شي، دغه معلومات ښایي د اسیا پراختیایي بانک او د بانک د غړو او هغو نورو ادارو تر منځ چې بانک ورسره همکاري لري، ارادي او د پرېکړې نیولو پروسې سپېڅلتوب د نظریو، نظرونو او طریقو د تبادلې په مخنیوي سره په خطر کې وغورځوي.

## ۲. د باور له مخې چمتو شوي معلومات

(iv). هغه معلومات چې د اسیا پراختیایي بانک ته د یوه غړي یا بلې ډلې له لورې د باور له مخې چمتو شوي وي. د اسیا پراختیایي بانک اړ دی چې دغه ډول معلومات خوندي وساتي او د نوموړي غړي یا ډلې له لیکلې اجازې پرته معلومات څرګند نه کړي.

---

[۱۰] د رئیسانو د بورډ جریانات د اسیا پراختیایي بانک د رئیسانو د بورډ د کړنلارې د قوانینو د ۹ برخې مطابق محرم دي. د دغې پالیسۍ د موخې لپاره، د رئیسانو د بورډ جریاناتو اصطلاح هر هغه سند یا معلوماتو ته راجع کیږي، چې د رئیسانو د بورډ غونډو یا کمېټو لپاره یا یې پنځول شوي وي او د بورډ مقالې (معلوماتو، بحث او پاملرنې لپاره د رئیسانو بورډ ته چمتو شوي اسناد) او د بورډ ریکارډونه لکه د رئیسانو د بورډ یا د کمېټې په غونډو کې چمتو شوې بیانیې، ټکي په ټکي لیکنې، عمده ټکي، او د کمېټې د غونډو لنډیزونه یا د بانک د مدیریت، ډیپارټمنټونو یا د سکرترانو د بورډ، د بورډ کمېټو او/ یا د اجرائیه رئیسانو د دفترونو تر منځ، د برېښنایي بڼې په ګډون په ټولو بڼو، پکې ګډون لري.

[۱۱] پرته له دې چې د پالیسۍ د استثناوو له مخې محدودیت نه وي، د رئیسانو بورډ ته خپرېدونکي اسناد د معلوماتو لپاره په وېبپاڼه کې خپرېږي. بورډ ته د ملاحظې لپاره چمتو شوي اسناد په عمومي ډول د بورډ له لورې له تصدیق وروسته څرګندیږي.

[۱۲] د رئیسانو د بورډ د رسمي غونډو ټکي په ټکي لیکنه ښایي له پنځېدلو څخه ۱۰ کاله وروسته د غوښتنې په صورت کې په بشپړ ډول څرګنده شي، خو په دې شرط چې د بورډ رسمي غونډې باید د ۲۰۱۲ کال د اپریل پر ۲ یمه نېټه یا ورڅخه وروسته ترسره شوي وي او معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه تصدیق کړي چې داسې معلومات پکې نشته یا رجوع ورته نه کوي چې د پالیسۍ په استثناوو کې شمېرل کیږي.

[۱۳] د رئیسانو د بورډ د هرې پرلپسې غونډې عمده ټکي د بورډ له لورې د عمده ټکو له تصدیق څخه وروسته څرګندیږي خو دغه کړنه باید د بورډ له اصلي غونډې څخه وروسته له ٦۰ ورځو زیاته موده وروسته نه وي. دغه کړنه د بورډ هغو مسلسلو غونډو باندې پلې کیږي چې د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر له لومړۍ نېټې وروسته ترسره شوې وي.

[۱۴] د یوه هېواد د شریکبانۍ پر تګلاره او سیمه ییزې همکارۍ پر تګلاره د رئیسانو د هر بورډ د بحث لنډیزونه او د بورډ په یوه رسمي غونډه کې د بورډ له لورې هره تصدیق شوې پالیسي یا تګلاره، بورډ ته د نهایي رسېدنې له نېټې ۱۴ ورځې وروسته څرګندیږي.

(v). د امتیاز د حق په اړه معلومات یا د اسـیا پراختیایي بانک ته د یوې ډلې له لورې چمتو شـوي معلومـات، هغـه چې که چېـرې څرګند شي، ښـایي د نومورې ډلـې یا بلې هـرې هغې ډلې سوداګریزې ګټې، مالي ګټې یا د سیالۍ حیثیت ته زیان ورسوي چې د معلوماتو له څرګندېدلو څخه اغېزمن کیږي.

(vi). هغه محرم سوداګریز معلومات چې د اسیا پراختیایي بانک یې په اړه له پېرودونکو یا نورو اړونده ډلو سره د محرمیت یا نه څرګندېدلو تړون ولري.

## ۳. شخصي معلومات

(vii). هر ډول شخصي معلومات چې د څرګندېدلو په صورت کې ښایي د اړوند شخص د خصوصیت حقوقــي ګټې په خطر کــې وغورځوي، پرته له هغې کچې څخه چې د اړوند شــخص له لورې یــا د اســیا پراختیایي بانک په قوانینــو کې اجازه ولري. په ځینو بېلګو کــې د هغوي د ټاکنو او انتخابولو د پروسې، د دندې د شرایطو، د کړنو د ارزونو، شخصي طبي معلوماتو، شخصي خبرو اترو، د داخلي شخړو د حل د جریاناتو اړوند معلوماتو او د غوښتنو مېکانېزمونو او د څېړنو اړوند معلومات ګډون لري.

## ۴. مالي معلومات

(viii). هغــه مــالي معلومات چــې د څرګندېدلو په صورت کې بــه په احتمالي ډول د اســیا پراختیایي بانک قانوني مالي یا ســوداګریزو ګټو او عملیاتو ته زیان ورســوي. په ځینو بېلګو کې د اســیا پراختیایي بانک د راتلونکو پورونو تخمینونه، مالي وړاندوینې، د اســیا پراختیایي بانک د خزانې عملیاتو لپاره د فردي پانګونو د پرېکړو په اړه معلومات، د کرېډټ ارزونې، د کرېډټ ارزښــتمن تــوب تحلیل، کرېډټ ته نومرې ورکول، د پــورورو او نورو پېرودونکو د خطر ارزونې او نور هغه معلومات ګډون لري، چې سرمایې یا مالي بازارونه یې پر وړاندې حساس وي.

(ix). هغــه معلومات چــې د څرګندېدلو په صورت کې به په احتمالي ډول د یــوه غړي وړتیا ته زیان ورسوي چې خپل اقتصاد اداره کړي.

## ۵. امنیت او خوندیتوب

(x). هغــه معلومات چــې د څرګندېدلو په صورت کې به د فرد ژوند، روغتیا، امنیت او خوندیتوب له خطر سره مخ کړي، د اسیا پراختیایي بانک د شتمنیو امنیت او خوندیتوب ته خطر پېښ کړي او یا د یوه غړي دفاع او ملي خوندیتوب ته زیان ورسوي.

## ۶. حقوقي او څېړنیزې موضوع ګانې

(xi). هر هغه معلومات چې د څارنوال – پېرودونکي امتیاز پورې مشروط وي (د اسیا پراختیایي بانک مشــاور یا یې بیروني مشاورینو ته یا ورڅخه د کمیونیکیشن په ګډون) یا هر هغه معلومات چې د څرګندېدلــو په صورت کې به په احتــمالي ډول د څارنوال – پېرودونکي قانوني ګټې کمزورې کړي یا له پلي کېدونکي قانون څخه د سرغړاوي سبب شي[۱۵].

(xii). هغه معلومات چې د اســیا پراختیایي بانک ته چمتو کیږي او د دوکې، فســاد، د بانک د فساد پر ضد پالیسی[۱۶] څخه سرغړونې یا بداخلاقۍ دعوه پکې کیږي یا د دغو کړنو له کومې څېړنې سره تــړاو ولــري. هر هغه معلومات چې د څرګندېدلو په صــورت کې به یوې څېړنې یا د عدلیې ادارې ته مادي زیان ورسوي، پرته له دې چې په هر حالت کې تر هغې کچې اجازه ولري چې د اســیا پراختیایي بانک له قوانینو سره سم وي. دغه پاراګراف همدا راز د هغې ډلې پر پېژندنه هم پلی کیږي چې دعوه کوي تر دې چې دغه معلومات ورکوونکی د خپل هویت له څرګندېدلو سره رضایت ونښیي یا دا چې د اسیا پراختیایي بانک د قوانینو مطابق تر یوې معلومې کچې یې هویت معلوم شي.

## ۷. د داخلي تفتیش راپورونه او د وجهي صندوق د تفتیش راپورونه[۱۷]

(xiii). (الــف) د اســیا پراختیایي بانک د سر مفتش دفــتر د داخلي تفتیش راپورونــه، چې دغه ډول راپورونه ښــایي د داخلي سیستمونو په اړه حساس معلومات ولري، چې د دربیمې ډلې له لوري به د اســیا پراختیایي بانک په زیان ورڅخه ناوړه ګټه واخیســتل شي او (ب) د اسیا پراختیایي بانک له لورې د اداره کېدونکو وجهي صندوقونه په اړه د دغه بانک د بیروني مفتشینو د تفتیش ځانګــړي راپورونه، چېرې چې د تفتیش پلي کېدونکــي معیارونه د دغو راپورونو او اړونده مالي بیانیو څرګندونه محدودوي[۱۸].

---

۱۵ په دې کې ښایي هغه محدودیتونه ګډون ولري چې د امنیتي یا د بانکي قوانینو او یا د کاپي حق قانون له لورې تحمیل شوي وي.

۱۶ د اسیا پراختیایي بانک. ۲۰۱۰. د فساد پر ضد یا سپېڅلتوب: زمونږ د چوکاټ پالیسی او تګلارې. مانیلا. https://www.adb.org/sites/default/files/institutional-document/۳۱۳۱۷/anticorruption-integrity-policy-strategy.pdf; او د اســیا پراختیایي بانک. ۱۹۹۸. د فســاد پر ضد پالیسي. مانیلا. https://www.adb.org/documents/anticorruption-policy (څنګه چې ښــایي وخت پر وخت تازه شي).

۱۷ د تفتیش هغه نظریې او تفتیش شــوې مالي بیانیې چې عامو وګړو ته د اســیا پراختیایي بانک د کلني راپور د برخې په توګه څرګندې شــوې وي، د دغې استثنا برخه نه دي.

۱۸ د ځانګړو بسپنو مالي بیانیې د بسپنه ورکوونکو د مالي/ حساب اړتیاوو سره سمې چمتو کیږي (چې ښایي د حساب له هغو معیارونو سره توپیر ولري چې په متحده ایالاتو کې د منلو وړ وي) او د تفتیش له هغو معیارونو سره ســم یې تفتیش کیږي چې په متحده ایالتونو کې د منلو وړ وي (چې د اسیا پراختیایي بانک لپاره د پلي کېدو وړ دي). د تفتیش دغه ډول معیارونه د هغو مالي بیانیو څرګندونه محدودوي چې د حساب له هغو معیارونو سره سم چمتو شوي وي چې له متحده ایالتونو پرته په عمومي ډول د منلو وړ ي او ورسره مل د تفتیش نظریه هغو خلکو ته چې په بسپنه کې یې ګټه مشخصه کړي وي، لکه همکاران او د بسپنې د اداره کولو مسوولین.

## C. عامه ګټه لوړول (مثبته غبرګون)

۱۸. کـه چېرې بانک ووینـي چې د معلوماتو څرګندېدلو په صورت کې د احتـمالي زیان په پرتله د معلوماتو په څرګندولو کې عامه ګټه ډېره وي، د اسیا پراختیایي بانک په استثنایي حالتونو کې د هغو معلوماتو د څرګندولو حق لري چې په استثناوو کې شمېرل کیږي. د دغه ډول معلوماتو د څرګندولو یا ردولو لپاره هر ډول سپارښتنه د بورډ د ریکارډونو لپاره د بورډ د رئیسانو او د نورو اسنادو لپاره د عمومي رئیس تصدیق ته اړتیا لري.

## D. د لاسرسي محدودولو لپاره د اسیا پراختیایي بانک امتیاز (منفي غبرګون)

۱۹. که چېرې د اسیا پراختیایي بانک ووینې چې د معلوماتو په څرګندولو کې د ګټې پر ځای احتمالي زیان ډېـر دی، نومـوړی بانک حق لري چې په اسـتثنایي حالتونو کې هغه معلومـات څرګند نه کړي چې په عادي ډول یې ښـایي څرګند کړي وای. یوازې د رئیســانو بورډ کولای شي چې له دغه امتیاز څخه ګټه پورته کړي.

## E. تاریخي معلومات

۲۰. د اســیا پراختیایــي بانک د عملیاتو په تړاو هــر هغه معلومات چې د دغه بانک له لـوري د تولیدېدلو یا ورته د چمتو کېدلو له نېټې راهیســې له ۲۰ کلونو څخه د زیاتې مودې لپاره ســاتل شـوي وي، تاریخي معلومات ګڼل کیږي. د رئیسانو د بورډ تاریخي جریانات هغه مهال د څرګندېدلو وړ دي چې معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه داسې وګڼي چې د بورډ دغه ډول جریانات هغه معلومات نه لري یا رجوع ورته نه کوي چې د پالیســې تر اســتثناوو لاندې رازي په ۱۷.۱ (ii) پاراګراف کې ملاحظې په پام کې ونیسي. له هغو معلوماتو پرته چې په ۱۷.۲ پاراګراف (په باور سره چمتو شوي معلومات)،۱۷.۳ (شخصی معلوت) ۱۷.۵ (د امنیت او خوندیتوب معلومات) یا ۱۷.٦ (حقوقي او څېړنیزې موضوع ګانې) لســتونو کې تر اســتثناوو لاندې رازي چې له څرګندېدلو څخه به معاف وي، نور ټول تاریخي معلومات د څرګندېدلو وړ دي.

# VI. د معلوماتو غوښتنې

## A. معلوماتو لپاره غوښتنې

۲۱. د اسنادو او معلوماتو لپاره ټولې غوښتنې باید په لیکلې بڼه وي. غوښتنې باید د اسیا پراختیایي بانک مرکزي ادارو، استوګن هیأت، استازې ادارې یا د اسیا پراختیایي بانک هر ډیپارټمنټ یا ادارې ته راجع شي. په دې اړه معلومات چې د معلوماتو غوښتنې چېرته واستول شي، د اسیا پراختیایي بانک په وېبپاڼه کې موجود دي. په غوښتنو کې باید هغه معلومات له منطقي مشخص توب سره وښودل شي چې غوښتل کیږي څو د اسیا پراختیایي بانک ته ورتیا ورکړي چې په یوه منطقي او مناسب پړاو کې دننه معلومات معلوم کړي.

۲۲. د اسیا پراختیایي بانک ته غوښتنې باید په انګلیسي یا کومه بله رسمي یا د نوموړي بانک د غړو په ملي ژبو وړاندې شي[۱۹].

۲۳. د اسیا پراختیایي بانک اړ نه دی چې له نامالاتړو غوښتنو، د یوې ډلې غوښتنو یا هرې هغې غوښتنې ته ځواب ووایي یا ورسره مطابقت وکړي چې له نوموړي بانک څخه وغواړي څو هغه معلومات وپنځوي، وده ورکړي یا یې پرتله کړي، چې لا دمخه موجود نه وي یا یې د ریکارډونو د مدیریت په سیستم کې نه وي. دا له ورته شخص، ادارې یا ډلې څخه د ورته موضوع په اړه معلوماتو لپاره پر غوښتنو هم پلي کیږي که چېرې د اسیا پراختیایي بانک دغه معلومات له یوې پخوانۍ غوښتنې وروسته چمتو کړي وي یا یې دلایل وړاندې کړې وي چې ولې معلومات چمتو کولی نه شي.

۲۴. د اسیا پراختیایي بانک د غوښتنې ترلاسه کول تائیدوي او د غوښتنې په اړه خپله پرېکړه شریکوي[۲۰]. د پیچلو غوښتنو لپاره[۲۱]، د اسیا پراختیایي بانک ښایي په هغه صورت کې د غوښتنې ځوابولو لپاره موده وغځوي، چې غوښتونکي ته خبر ورکړل شوی وي او هغه هم منلې وي.

---

[۱۹] د اسیا پراختیایي بانک له لورې غوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره انګلیسي د معیاري ژبې په توګه کاروي. ځوابونه ښایي محلي حالتونو ته په لیدلو سره وژباړل شي.

[۲۰] په هغه صورت کې چې د اسیا پراختیایي بانک تر ۱۸ پاراګراف (مثبت باطلول) یا ۱۹ پاراګراف (منفي باطلول) لاندې خپل امتیاز وکاروي، د اسیا پراختیایي بانک به هغه مهال یوه غوښتونکي سره په اړیکه کې شي چې یوه نهایي پرېکړه وشي. څنګه چې مناسبه وي، غوښتونکي ته به د مودې د غځېدلو په اړه خبر ورکړل شي.

[۲۱] په پیچلو غوښتنو کې له مختلفو سرچینو څخه د معلوماتو غوښتل، ډېر شمېر اسناد غوښتل، د ډېرو کلونو په اړه معلومات غوښتل، پرتلنه کول، خامو موادو ته اړیکه ورکول او موندنې چمتو کول ګډون لري.

## B. معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه

۲۵. معلوماتـو تـه د لاسرسي کمېټه یوه څارونکې اداره ده چې د پالیسـۍ او د پلي کولـو د ترتیباتو د تعبیر، څارنې او بیا کتنې په موخه تاسـیس شـوې ده. په دې کمېټه کې به د اسـیا پراختیایي بانک لوړپوړي کارکوونکي ګډون ولري چې د رئیس له لورې به غوره شوي وي او هغه ته به راپور ورکوي. معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه به د اړتیا پر مهال غونډه کوي څو د معلوماتو لپاره د هغو غوښـتنو بیاکتنه وکړي چې د اسـیا پراختیایي بانک د ادارو له لورې رد شـوي وي. معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه به اړونده غوښتنې پـه پام کې ونیسي او په اړه به یې پرېکړه وکړي (۲۸ پاراګراف). معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه به واک ولري چې (i) معلوماتو ته د لاسرسي د ردولو په برخه کې د اسـیا پراختیایي بانک ادارو له لورې شـوې پرېکړې تائید یا رد کړي او (ii) د څرګندولو لپاره غوښـتنې د معلوماتو لپاره ګټورې وګڼي چې د پالیسـۍ په استثنا سره پوښل شوي وي (۱۸ پاراګراف).

## C. غوښتنې

۲۶. د اسـیا پراختیایي بانک د غوښـتنو یوه دوه – پړاویزه پروسه لري چې غوښتونکي یې هغه مهال کارولی شي چې باور وکړي چې د اسـیا پراختیایي بانک یې معلوماتو لپاره غوښـتنه له دغې پالیسـۍ څخه په سرغړونې سره رد کړې ده. په دې اړه معلومات چې د معلوماتو غوښـتنې څېرته واسـتول شي، د اسـیا پراختیایـي بانـک په وېبپاڼه کې موجود دي. هغه غوښـتونکي لپاره چې پر یوه غوښـتنه ودرېږي، ګټه یوازې د غوښتل شوو معلوماتو ترلاسه کولو پورې محدوده ده.

۲۷. د غوښتنو دوه – پړاویزه پروسه په لاندې ډول ده.

### ۱. لومړی پړاو: معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه

۲۸. هغه غوښتونکی چې د اسیا پراختیایي بانک له لورې یې معلوماتو ته لاسرسی رد شوی وي، بنایي هغه مهال معلوماتو ته د لاسرسي کمېټې ته غوښـتنه وسـپاري چې وکړای شي (i) وښیي چې معلوماتو لپاره یوه لومړنۍ غوښتنه په پالیسۍ کې له ښودل شوو اړینو کړنلارو سره سمه سپارل شوې وه او (ii) دا چې یوه منطقي دعوه وکړي چې غوښـتل شـوو معلوماتو ته د لاسرسي په ردولو سره د اسیا پراختیایي بانک له پالیسۍ څخه سرغړونه کړې ده یا په ۱۸ پاراګراف کې د تفصیل مطابق د عامه ګټې یوه دعوه وکړي څو د پالیسۍ استثنا(وې) باطلې کړي.

### ۲. دویم پړاو: د غوښتنو خپلواک هیآت

۲۹. کـه چېرې معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه، معلوماتو لپاره د غوښـتنې ردولو لومړنۍ پرېکړه تائید کړي او غوښـتونکی لا هم په دې باور وي چې د اسـیا پراختیایي بانک د معلوماتو په ردولو له خپلې پالیسـۍ څخه سرغړونه کړې ده، غوښـتونکی بنایي د غوښتنو یوه خپلواک هیآت ته عریضه وسپاري. د غوښتنو خپلـواک هیـآت واک لري چـې معلوماتو ته د لاسرسي کمېټـې پرېکړه تائید یا رد کړي. د غوښـتنو د خپلواک هیآت پرېکړه نهایي بڼه لري.

۳۰. د غوښــتنو خپلواک هیأت واک نه لري څو هغه غوښــتنې په پام کې ونیسي چې (i) د رئیســانو د بورډ یا رئیس له لورې پرېکړو پورې تړاو لري که چېرې غوښــتنه د عامه ګټو د باطلولو پر بنســټ وي یا (ii) د رئیســانو د بورډ له لورې پرېکړې څو په عادي ډول ځرګندېدونکو معلوماتو ته د لاسرسي محدودولو لپاره خپل امتیاز وکاروي.

۳۱. د غوښــتنو په خپلواک هیأت کې به له اســیا پراختیایي بانک څخه بیرون معلوماتو ته د لاسرسي بیروني متخصصین ګډون ولري. د اســیا پراختیایي بانک رئیس د دغه هیأت غړي ټاکي او د رئیسانو د بورډ له لورې یې تصدیق کیږي.

## ۳. د غوښتنو او د پرېکړو د خبرتیاوو سپارل

۳۲. ۳۲. معلوماتــو تــه د لاسرسي کمېټــې تــه ټولې غوښــتنې بایــد، د اســیا پراختیایي بانک لــه لورې غوښــتل شــوو معلوماتو ته د لاسرسي د رد کېدلو له لومړنۍ پرېکړې څخه وروســته په ۹۰ ورځو کې په لیکلې بڼه وسپارل شي. د غوښتنو خپلواک هیأت ته ټولې غوښتنې باید، معلوماتو ته د لاسرسي کمېټې له لورې د لاسرسي د رد کېدلو په اړه د اسیا پراختیایي بانک د لومړنۍ پرېکړې له تائید څخه وروسته په ۹۰ ورځو کې په لیکلې بڼه وسپارل شي. د یوې غوښتنې لپاره له ۹۰ ورځو وروسته ترلاسه شوې غوښتنې به په پام کې ونه نیول شي. په ټولو غوښتنو کې باید لاندې یاد شوي شیان ګډون ولري:

(i). د هغو معلوماتو تشریح چې په لومړي سر کې غوښتل شوي وي او

(i). یوه داســې تفصیلي بیانیه چې داســې واقعیتونه ترتیبوي چې د غوښتونکي د هغې دعوې ملاتړ کوي چې د اســیا پراختیایي بانک له پالیســۍ څخه سرغړونه کړې ده یا دا چې د عامه وګړو د ګټې خبره پلې کیږي.

۳۳. غوښــتونکو ته هغه مهال خبرتیا ورکول کیږي چې که چېرې (i) په معلوم وخت کې دننه د غوښــتنې په کولو ونه توانیږي (ii) د غوښتنې د منطقي ملاتړ لپاره د کافي معلوماتو په چمتو کولو ونه توانیږي یا (iii) لــه دې امله چې معلوماتو ته د لاسرسي کمېټه یا د غوښــتنو خپلــواک هیأت د هغې موضوع په پام کې نیولو واک ونه لري چې غوښتنه یې شوې ده.

## D. له نورو پالیسیو سره معلوماتو ته د لاسرسي پالیسۍ اړیکه

۳۴. په دغې پالیســۍ کې د اســیا پراختیایي بانک نورو پالیســیو ته هره رجوع کې هغه نورې پالیسۍ ګډون لري چې وخت پر وخت تعدیل شوي دي.

## E. د مطابقت بیاکتنه

۳۵. معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي د غوښتنو په پروسې پورې مشروطه ده (۲٦ – ۳۳ پاراګرافونه). معلوماتو ته د لاسرسي پالیسي د اسیا پراختیایي بانک د حساب ورکولو د مېکانېزم پالیسۍ دننه یوه "عملیاتي پالیسي" ده. پـه دې ډول، له پروژې څخه د اغېزمنو شوو وګړو له لورې هغه شکایتونه چې د اسیا پراختیایي بانک له لورې د یوې پروژې د جوړولو، پروسس کولو او پلي کولو په جریان کې له پالیسۍ څخه د سرغړونې دعوه پکې کوي، د اسیا پراختیایي بانک د حساب ورکولو مېکانېزم تر پالیسۍ لاندې تر څېړنې لاندې نیول کیدلی شي[۲۲].

[۲۲] د مسؤولیت منلو مېکانېزم هغو خلکو لپاره یو فورم چمتو کوي چې د اسیا پراختیایي بانک د مالي مرستو له پروژو څخه په منفي ډول اغېزمن شوي وي څو د خپلو ستونزو په اړه غږ پورته او حلالرې ورته وغواړي او د نومورړي بانک له عملیاتي پالیسیو او کړنلارو سره نه مطابقت راپور کړي. د اسیا پراختیایي بانک د حساب ورکولو مېکانېزم، https://www.adb.org/site/accountability-mechanism/main

# VI. د پالیسۍ څارنه او سمونونه

۳۶. د اسیا پراختیایي بانک به د پالیسۍ پلي کېدنه وڅاري او په خپله وېبپاڼه کې به یې کلني راپورونه خپاره کړي. د رئیسانو د بورډ له لورې له تصدیق کېدلو سره به کله کله په پالیسۍ کې سمونونه رامنځته شي.

## ۷.   د پالیسۍ د اغېزمنتوب نېټه

۳۷.   دغــه پالیــسي بــه د ۲۰۱۹ کال د جنــوري له لومړۍ نېټې څخه عمــلي بڼه خپلــه او د ۲۰۱۱ کال د عامه کمیونیکیشن پالیسۍ ځایناستې شي.

**د اسیا پراختیایي بانک په اړه**

د اســیا پراختیایي بانک ژمن دی چې یوه نیکمرغه، ټولشــموله، پیاوړې او پایښــت لرونکې اســیا او پاســفیک ســیمه وګوري، په داســې حال کې چې د شــدیدې بیوزلۍ له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې جاري وساتي. د اسیا پراختیایي بانک په ۱۹٦٦ کې تاسیس شوی، چې ٦۷ غړي یې مالکیت لري – چې ۴۸ یې له سیمې څخه دي. د خپلو غړو هیوادونو سره د مرستې لپاره د دې بانک اصلي سندونه د پالیسۍ مذاکرات، پورونه، د اسهامو پانګونه، ضمانتونه، وجوهات، او تخنیکي مرسته دي.

**د اسیا پراختیایي بانک**
٦ سړک، د آسیا پرمختیایي بانک،
ماندالیونګ ښار، ۱۵۵۰ میترو مانیلا،
www.adb.org